آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۲۰

# لارورکي لارويان

## شلمه برخه

## په ماسکو کې د افغانانو فرهنګي هڅې

### د افغانستان د فرهنګ ټولنې له خوا تر سره شوي کارونه:

### الف ــ د پرديس خپرول:

د افغانستان د فرهنګ ټولنې د خپل پيداينت په لومړنيو ورځو کې پتيلې وه چې يو خپرنی ارګان به لري، نو همغه و چې د خپلو لومړنيو غونډو په اجندا کې يې نشراتي مسايلو ته لومړنی ځای ورکړ.
د افغانستان د فرهنګ ټولنې د مشر تابه د ۱۳۷۲ کال د دلوې د يولسمې (۳۱- ۱- ۱۹۹۴) په غونډه کې ښاغلو داود جنبش او لطيف بهاند ته دنده وسپارل شوه چې د يوې جريدې د را ايستلو، شکل، قطع، صحافت او مالي امکاناتو په باب فکر وکړي او راتلونکي غونډې ته دې ګزارش برابرکړي.
د۱۳۷۲ کال د دلوې د اتلسمې نيټې (۱۹۹۴ـ ۲ـ ۷) په غونډه کې غوښتل شوی ګزارش، د داود جنبش له خوا واورول شو. د خپل ګزارش په لړ کې ده يوه مهم ټکي ته داسې اشاره وکړه:
«تر څو چې د افغانستان د فرهنګ ټولنه د روسيې له عدليې وزارت سره ثبت او راجستر نه شي؛ هيڅ رسمي مؤسسه د ځای او د اخبار د چاپ په برخه کې مرسته نه کوي.»
سره له دې چې د ټولنې د کارونو اساسي برخې تر سره شوې نه وې او کارونه يې څه چټک او څه يخ روان وو، د نوي کال پروګرام مخ کې و؛ خو د اخبار د را ايستلو مسألې په جدي ډول روانه وه، چې د ټولنې رييس رهنورد زرياب په مهاجرت کې مهاجر شو، له ماسکو څخه د غربي اروپا په لورې وخوځيد او د ۱۹۹۴ کال د فبرورې په څليرشتمه نيټه يې لاندې ليک د ټولنې د مشر تابه په نامه ليکلی او ښاغلي زرين انځور ته يې سپارلی و:
«به ګروه رهبري انجمن فرهنګ افغانستان،
اينجانب، رهنورد زرياب، عازم سفرى به اروپا هستم. مطابق اساسنامه انجمن، معاون انجمن از صلاحيتهاى رييس بر خوردار خواهد بود.
اميدوارم با کار پيګير شما، انجمن مان شګوفان شود و بارور. از خداوند بزرګ براى تان پيروزى ميخواهم. به اميد ديدار.

با عرض حرمت
رهنورد زريا ب
امضا »

که څه هم اروپا ته د ټولنې د رييس نا څاپي سفر د ټولنې رهبري غرې خوا بدې کړي وو؛ خو د ټولنې په کارونو، په تيره د ټولنې د نشراتي ارګان پرديس په کارونو کې هيڅ ډول ستونزه رامنځ ته نه شوه.
د ټولنې د مشرتابه ډلې او مشورتي شورا په ګډه غونډه کې چې د۱۳۷۲ د حوت په نولسمه نيټه (د ۱۹۹۴ کال د مارچ لسمه) جوړه شوې وه، ښاغلي محمد انور نوميالي د ټولنې د نشراتي ارګان پرديس د ژر تر ژره خپريدو باندې ټينګار تر څنګه دا وړانديز هم وکړ چې د خپروني نوم دې پرديس وي.
په غونډه کې د ټولنې په خپرونه باندې ښايسته تاوده بحثونه وشول. د ټولو بحثونو پايله دا شوه چې خپرونه که هر څومره ابتدايي هم وي، بايد را وايستل شي.
د عمومي غونډې له پای ته رسيدو وروسته، په همدې ورځ د ټولنې د ځينو غړو په ګډون د پرديس له پاره يوه ځانګړې غونډه جوړه شوه. په دې غونډه کې د ټولنې د خپرونې (پرديس) په برخه کې دغه پريکړې وشوې:
۱ـ د خپرونې نوم دې د اوس له پاره پرديس وي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۲ـ د خپروني د خپریدو زماني واټن دې د اوس له پاره میاشتنی وي،
۳ـ د خپروني د آرایش مسؤلیت اسلم اکرم لري،
۴ـ د خپروني سرمقالي دي لطیف بهاند لیکي،
۵ـ د خپروني د لومړی ګڼي مضامین دې په دې ډول وي:
ـ د نوي کال د مبارکی پیغام،
ـ خبرونه چي اصلي خبر په کي د ټولني د جوړیدو خبر دی.
ـ له نورو خپرونو او رادیوګانو څخه اقتباس،
ـ د ملي وحدت په برخه کي یو مطلب،
ـ په روسیه کي د مهاجرت په برخه کي یو مطلب،
ـ د نوي کال په مناسبت پښتو او دري شعرونه.

د ټولو ټینګار په دې و، چي لومړی ګڼه دې د نوي کال تر لومړی ورځې پورې را ووزي.
له ډیر انتظار او هڅو نه وروسته د پردیس لومړی ګڼه د ۱۳۷۳ کال په پسرلي کي په لږ ځنډ سره له چاپه را و وته.


پردیس
PARDES
د افغانستان د فرهنګ ټولني خپرونه
APRIL - June 1994 №2-3
لومړی کال- دوهمه-دریمه ګڼه - ۱۳۷۳ هـ ش - ثور- جوزا

پر هیواد کې څه تیریږي

د استاد حمزه شینواري د مړیني په مناسبت د افغانستان د فرهنګ ټولني پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

انا لله وانا الیه راجعون

د افغانانو
دکړاو یو بل کال تیر شو

پناهندګان افغان در روسیه چی وضع دارند

وروسته له هغه چي په کابل کي ټوپکي ناورین رامنځ ته شو، ګڼ شمیر وتلي او پیژندل شوي فرهنګیان د لاروړکو لارویانو د کاروان په سلسله کي ځانونه تر ماسکو پورې ورسول. د دوی په راتګ سره پردیس د افغانان ولومړنی اخبارو چي په پښتو او دري ژبو باندې افغان لوستونکوته وړاندې شو. د پردیس دلومړی ګڼي په سرمقاله کي داسي راغلي دي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

«درد جانکاهي سراسر وطن مان را فرا گرفته، اولاد وطن، چه آنانيکه هنوز آغوش پر محبت ولي خون آلود کشور را ترک نه گفته و چه آنانيکه با هزار رنج و مشقت از آن بدور افتاده اند، از اين درد ضجه ميکشند. مهاجران ما در کنار ديگر آلام، دچار يک خلاى وحشتناک فرهنگي نيز ميباشند. با هر وسيله که شده، اين خلا را بايد پرکرد.
انجمن فرهنگ افغانستان خرسند است که اولين شماره ارگان نشراتي خويش «پرديس» را براى همين منظور به دست نشر ميسپارد. انجمن با امکانات محدود خويش به نشر چنين جريده اقدام ميورزد. از اينرو در نخستين گام هاى نشرات ما کاستي هاى فراواني را خواهد ديد، که اميد واريم با نظر داشت امکانات خيلی محدود ما، آنرا نا ديده بگيريد و در ياري رساندن با ما و در بهبودي و تقويت نشرات «پرديس» از هيچگونه همکاري دريغ نه ورزيد.
چنانچه در اساسنامه انجمن فرهنگ افغانستان به صراحت خاطرنشان گرديده است انجمن ما غير وابسته، آزاد و مستقل بوده و با هيچ حزب، سازمان، تنظيم و گروه سياسي پيوندي نه دارد. «پرديس» به حيث ارگان نشراتي اين انجمن از همين اصل پيروي خواهد نمود و به حيث يک جريده آزاد و مستقل به کار نشراتي ادامه خواهد داد...»
که چيرې دپرديس دلومړنۍ ګڼې شکلي جوړښت ته پاملرنه وشي،په ربښتيا چې د ضعف ټکي په کې ډير دي؛ خو که د امکاناتو په چوکاټ کې وتلل شي بيا هم غنيمت ده چې په هغو نشتو امکاناتو دا خپرونه را وايستل شوه.
د اخبار په چاپ کې هيڅ روسي فرهنګي مؤسسي يا مرسته ونه کړه او يا يې موږ ته د مرستو د جلبولو چل نه راته.
د پرديس د لومړنۍ ګڼې ځينې برخې د خراب ټيپ او خراب چاپ له کبله يا نه لوستل کيږي او يا په کړاو لوستل کيږي؛ خو دا هم بايد هيره نه شي چې دا د پرديس امتحاني ګڼه وه، د ټولنې غړو هيله درلوده او هڅه يې کوله چې په راتلونکو ګڼو کې دا نيمګړتياوې رفع شي.
د پرديس لومړۍ ګڼه د ټولنې په مالي مصرف ټيپ او چاپ کړل شوه، خو بيا هم له ستونزو او تير وتنو ډکه وه. د ټولنې مشرتابه هيأت پريکړه وکړه چې دويمه ګڼه دې د احمد تکل او ممتاز ارمان په قلم وليکل شي او بيا دې چاپ ته وليږل شي. کله چې دا کار وآزمويل شو، په ربښتيا چې ډيره ښه نتيجه يې ورکړه. بيا نو تر پايه د احمد تکل د ګوتو له برکته پرديس په لږ مصرف، لږو تيروتنو او ښه بڼه چاپيده.
بله ستونزه خو دا وه چې د افغانستان د فرهنګ ټولنې، د پرديس د چاپ په برخه کې له يوې خوا کومه مرسته تر لاسه نه کړه، بلکې دا ډار د ټولنې له غړو سره هر کله مل و چې که د اخبار د چاپ ځاى ماسکو وښودل شي، نو کوم امنيتي مقام پوښتنه و نه کړي چې دا اخبار مو د ماسکو په کوم ځاى کې چاپ کړى دى؟ د همدې ستونزې پر بنا په اخبار کې ليکل کيدل:
د چاپ ځاى د جرمني کولن ښار.
پرديس هيڅکله ټاکلی مسؤل مدير نه درلود. د ټولنې د مشرتابه ډلې په ډله ايزه توګه کار کاوه، خو تر ټولو ډير کار ته داود جنبش، احمد تکل او لطيف بهاند اوږه ورکوله.
د افغانستان د فرهنګ ټولنې د مشرتابه ډلې د۱۳۷۳ کال د قوس په ۲۱مه (۶- ۱۲- ۱۹۹۴) پريکړه وکړه چې د پرديس په ليکنې هيأت کې دې دغه کسان وي:
محمد انورنوميالی، اعظم سيستاني، لطيف بهاند، زرين انځور، راحله راسخ، سعيد ورکزى، فريد شايان، اسلم اکرم، حيدر پرديس او آصف بهاند.
دا چې د پرديس د لومړنۍ ګڼې له چاپ نه بيا د هغه د وروستۍ ګڼې تر چاپ وروسته منتقدينو څه ليکلي دي، ښه يې ارزولی او که ډير اشتباهات يې په کې په نښه کړي دي؛ زه ور باندې څکه خبر نه يم چې زموږ د مهاجرت ژوند داسې راغلی دی لکه د سرېښو ډنډ. د پيښور د سرېښو له ډنډ څخه په خلاصيدو سره مو لا سمه سا نه وه ايستلې، چې د ماسکو د سرېښو په ډنډ کې مو پښه ونښته، له هغه ډنډه چې را خلاص شو د اروپا د سرېښو ډنډ ته مو لا پام نه وه چې دا تر نورو ژور او خطرناکه دی.
په هر صورت، د مهاجرت ژوند داسې پر موږ راوستې ده چې موږ له ډيرو شيانو خبر نه شو. له هغې ډلې نه زموږ پرديس اخبار داسې پرديس شوی او بې سرنوشته شوی دی چې په خپله پالونکې او روزونکې يې په سمه توګه د هغه له سرنوشته خبرنه دي.
ښاغلی ممتازارمان چې د افغانستان د فرهنګ ټولنې د مشرتابه ډلې غړی و او د پرديس ښست اينودونکی او پالونکی ګڼل کيده، د خوارکوټي پرديس په باب د پاک ذهن لوستونکو ته نا سم مواد او معلومات د لومړي لاس موادو په صفت وړاندې کړي دي.
ده د «هيله» مجلې د۱۳۷۸ هجري شمسي کال په شپږمه (سلواغه – کب) ګڼه کې د «په اروپا کې د افغاني فرهنګي کړنو يو نيمګړی جاج» تر سرليک لاندې يوه مغتنمه مقاله خپره کړې ده، چې د قدر وړ لومړني مواد لوستونکو او د ژورناليزم او ادبياتو څيړونکو ته په لاس ورکوي؛ خو له بده مرغه له يو شمير داسې تيروتنو سره چې بايد نه يې واى کړې او نه يې واى ليکلې. که يې معلومات نه درلود په زغرده به يې ليکلي واى چې ما سره د اوس له پاره دغه معلومات نه شته. ده په ځينو برخو کې داسې معلومات وړاندې کړي دي؛ لکه دى چې ښه پخه او کره اسناد په لاس لري، له هغې ډلې نه د پرديس په برخه کې. ده د هيلې په پورته ياده شوې ګڼه کې د پرديس په باب ليکلي دي چې:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

«...ټول ټال يې خلور يا پنځه ګڼې چاپ شوي دي.»
ما د ټولنې د يو مسؤل په توګه د پرديس بشپړ کلکسيون ساتلی و، خو له بده مرغه چې د مهاجرت د پټو او ښکاره منډو په اړو دوړ کې رانه پاتې شو؛ خو همدا اوس يې هم تر پنځه لسمې ګڼې پورې ما سره خوندي ده.
د ښاغلي ارمان د معلوماتو بله نا بشپړه برخه د «زمانه» جريدې په برخه کې ده. د زماني په برخه کې هم د ده معلومات نا بشپړ دي. د ده د يادې مقالې په يوه برخه کې د زماني په باب راغلي دي:
«د زماني د مؤسس او چلونکي ښاغلي لطيف بهاند په وينا، د اقتصادي ستونزو له امله د اوه لس يا اتلس ګڼو له خپريدو وروسته بنده شوه...»
همدا اوس يې زما په شخصي آرشيف کې تر پنځه ويشتمې ګڼې پورې کلکسيون خوندي دی.
زه له ټولو څيرونکو نه هيله کوم چې د لومړي لاس موادو او د هغو د خپراوي په برخه کې ډير دقيق اوسي. دغه نا سم معلومات ورکول له يوې خوا له يادو اخبارونو او د هغو له مسؤلينو سره جفا ده او له بلې پلوه ستره تيروتنه په دې ده چې موږ اوس د کمپيوتر په عصر کې نوي نسل ته ناسم معلومات ورکوو، چې بيا د دې سمول يوه اوږده وخت او ګڼو څيړنو ته اړتيا لري.

## ب: د ۱۳۷۳ کال د را رسيدو له امله د نوي کال لمانځل:

د افغانستان د فرهنګ ټولنې د پيدايښت له پيل نه په دې هڅه کې وه چې يو لړهنري پروګرامونه جوړ کړي. وروسته له ډيرو هلوځلو څخه د موسيقي او تمثيلي پارچو په برخه کې يو څه کارونه سره برابر شول. د ۱۳۷۳ کال په را رسيدو وپتيل شوه چې دغه ټول هنري پروګرامونه دې د نوي کال له پاره سره منسجم شي. يو خو به مو مهاجرو افغانانو ته تفريحي پروګرام برابر کړی وي، له بلې خوا به مو د نوی کال ښه هرکلی کړی وي؛ نو هماغه و چې د ټولنې د غړو له ډيرې لټې وروسته، د «ام ـ ګ ـ او» په ليليه (داس) کې د خالد نومي افغان محصل په مرسته چې په ليليه کې يې د همدې تالار مسؤليت په غاړه و، په همدې تالار کې د نوي کال د لمانځلو پروګرام برابر کړ او نوی کال مو د مقالو او شعرونو په لوستلو او د کنسرت په جوړولو سره ولمانځه.
په نورو کلونو کې ټولنې د مالي ستونزو له امله و نشو کړای چې نوی کال په شاندارو مراسمو ولمانځي، يوازې به يې په يوې وړوکي مشاعرې بسنه کوله.

## ج: د استاد حمزه شينواري تعزيتي غونډه:

په ماسکو کې ميشت مهاجرو افغانانو په خواشينۍ سره خبر تر لاسه کړ چې د معاصر پښتو غزل پلار، استاد حمزه شينواری د ۱۳۷۲ کال د سلواغې په ۲۹ نيټه (د ۱۹۹۴ م کال د فبروری ۱۸) په پيښور کې له نړی نه سترګې پټې کړي دي.
د افغانستان د فرهنګ ټولنې د استاد حمزه شينواري د مړينې په مناسبت يو پيغام خپور کړ. دغه پيغام د «پرديس» د لومړي کال په دويمه ـ دريمه (۱۳۷۳ ـ ثور – جوزا) ګڼه کې خپور شوی دی، چې بشپړ متن يې دلته راوړل کيږي:
«د استاد حمزه شينواري د مړينې په مناسبت د افغانستان د فرهنګ ټولنې پيغام:

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان د فرهنګ ټولنه په خواشينۍ سره خبره شوه، چې د پښتو ژبې نوميالی شاعر او ليکوال استاد حمزه شينواری د ۱۳۷۲ هجري شمسي کال د دلوې په ۲۹ (د۱۹۹۴ ع دفبرورې اتلسمه) په پيښور کې وفات شو.

انا لله وانا اليه راجعون.

استاد امير حمزه خان شينواری نه يوازې په پښتنې ټولنه کې د خاص شهرت خاوند و، بلکې په سيمه کې يې د يو وتلي شاعر، ليکوال او مفکر په توګه نوم لاره. د هغه آثار که له يوې خوا د پښتنو د فرهنګ د بيلابيلو اړخونو د انعکاس له پاره ارزښتمن دی او د دغه فرهنګ او ادب د غنا له پاره يې خپل اغيزمن نقش تر سره کړی دی؛ له بلې خوا په عمومي توګه د بشري فرهنګ او هنر يوه د يادونې وړ برخه جوړوي.
د افغانستان د فرهنګ ټولنه د استاد حمزه شينواري د مړينې په وير کې ځان شريکه ګڼي او له لوی خدای(ج) څخه د هغه کورنۍ، دوستانو او مينه والو ته د جميل صبر غوښتنه کوي. موږ له هغو مؤسسو او فرهنګي او ادبي کړيو څخه چې د پښتو ادبياتو او فرهنګ د خپريدنګ او څيرنې په کارونو بوخت دي، هيله لرو چې د استاد حمزه د ناچاپو آثارو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د چاپ په برخه کې اقدام وکړي. د دې په څنګ کې چې د استاد د آثارو د تحقیق پر ضرورت ټینګار لازم دی، لازمه ده مسلکي کسان په نورو ژبو د دغه ډول آثارو د ژباړې کار ته جدي پاملرنه وکړي.

په درناوي

د استاد حمزه شینواري اروا دې ښاده وي

د افغانستان د فرهنګ ټولنه

د۱۹۹۴ کال د اپریل نهمه، د ۱۳۷۳ش کال د حمل شلمه»

د افغانستان د فرهنګ ټولنې د مشر تابه ډلې پریکړه وکړه چې د استاد حمزه تعزیتي غونډه دې د۱۳۷۳ ش کال د حمل په شلمه نیټه ونیول شي. په دې غونډه کې د افغانستان د فرهنګ ټولنې له پیغام بر سیره د استاد حمزه پر ژوند، اشعارو، آثارو او افکارو باندې مفصلې خبرې وشوې.

## د: د استاد سرآهنګ درې اوېایمه کلیزه:

د استاد سرآهنګ سندرو، مقام او هنر ته د درناوي په خاطر د افغانستان د فرهنګ ټولنې پریکړه وکړه چې د یو شانداره محفل په ترڅ کې دې د استا سرآهنګ درې اوېایمه کلیزه ولمانځل شي.
د افغانستان د فرهنګ ټولنې وکولای شول چې د ۱۳۷۳ کال د عقرب په ۲۳ (د۱۹۹۴ م کال د نوامبر ۱۴) نیټه دغه محفل د یوشانداره کنسرت په ترڅ کې ولمانځي. په دغه محفل کې په سل ګونو افغانانو ګډون درلود.
په پیل کې په لنډ ډول د دې محفل د جوړېدو پر اړتیا خبرې وشوې، بیا د افغانستان د فرهنګ ټولنې د کارونو پر څرنګوالي رڼا واچول شوه، وروسته له هغه د استاد سرآهنګ پر ژوند لیک او هنري کارونو خبرې وشوې، بیا ځینو ښاغلو شاعرانو خپل شعرونه استاد سرآهنګ ته اهدا کړل؛ په پای کې د هیواد ګڼ شمیر هنرمندانو د استاد په یاد سندرې و ویلې.

## هـ: د قهارعاصي تعزیتي غونډه:

د افغانستان د فرهنګ ټولنې د خپلو فرهنګي هلوځلو په لړ کې وتوانیده چې د۱۳۷۲ کال د لړم په ۲۹ مه (د ۱۹۹۴ م کال د نوامبر شلمه) نیټه، د هیواد د ځوان شاعر قهارعاصي د وژل کېدو له امله یوه تعزیتي غونډه جوړه کړي. دغه غونډه چې د «یاد بودې از عاصي» تر سرلیک لاندې جوړه شوې وه، ګڼ شمیر فرهنګیانو، د فرهنګ مینه والو او د قهار عاصي دوستانو او علاقمندانو ګډون په کې کړی و.
په دې غونډه کې د افغانستان د فرهنګ ټولنې د تسلیت پیغام، د قهار عاصي د ژوند او اشعارو په باب یوه مفصله تحقیقي مقاله، شعرونه او د قهار عاصي د ژوند خاطرات بیان کړای شول.

## و: د استاد عبدالروف بینوا د لسم تلین په مناسبت علمي سیمینار:

د افغانستان د فرهنګ ټولنې تر ټولو ستره لاس ته راوړنه د استاد عبدالرؤف بینوا د لسم تلین په مناسبت د یو علمي سیمینار جوړول و. د ۱۹۹۵ کال د فبرورۍ په لومړۍ نیټه د هیواد د وتلي علمي، ادبي، ژورنالستي او سیاسي شخصیت، استاد عبدالرؤف بینوا لسم تلین د یوه علمي سیمینار په ترڅ کې ولمانځل شو. په دغه علمي سیمینار کې د دوو غونډو په ترڅ کې یو شمیر پوهانو د استاد بینوا د ځو اړخیز شخصیت په برخه کې خپلې مقالې، وېناوې، شعرونه او خاطرات واورول.
د استاد بینوا د لسم تلین په مناسبت علمي سیمینار د سهار په یولسو بجو د قاري نصیراحمد له خوا د قرآن عظیم الشان د څو آیتونو په تلاوت سره پیل شو. بیا د ختیځ پیژندنې د انستیتوت مرستیال پروفیسورااناتولي ایګورین میلمنو ته د ښه راغلاست په ویلو سیمینار پیل کړ.

## لومړۍ علمي غونډه:

رییس: پروفیسور کانکوفسکي
مرستیال: ډوکتور محمد لطیف بهاند
- د ښاغلي افضل ټکور مقاله:
د استاد بینوا ژوند او آثار
- د ښاغلي ډوکتور لطیف بهاند مقاله:
د استاد بینوا د شعر مقام


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- د ښاغلي کانديد اکاديمسين محمد اعظم سيستاني مقاله:
بينوا به مثابه يک مؤرخ
- د ميرمن گراسيموا مقاله:
عبدالرؤف بينوا د افغانستان نوميالى شاعر، ليکوال او اجتماعي شخصيت
- د ډاکتر عبدالله مهربان مقاله:
بينوا مرد سياست
- د ميرمن راحله يارشعر.

## دويمه علمي غونډه:

رييس: کانديد اکاديمسين محمد اعظم سيستاني
مرستيال: ميرمن گراسيموا
- د ښاغلي زرين انځور مقاله:
بينوا او غني
- د پوهندوی آصف بهاند مقاله:
استاد بينوا او پښتو نثر
- د ښاغلي عاطفي شعر
- د ښاغلي ډوکتورمحمد داود جنبش مقاله:
بينوا د ورځپاڼه ليکونکي په توگه
- د ټولنې د مالي مسؤل ښاغلي امان اشکريز خبرې
- روژه ماتي ته بلنه.

## ز: د مشهور ختيځ پوه ک ـ ف ـ گيرس لومړی تلين:

د ۱۳۷۴ هجري شمسي کال دجوزا په ۱۹مه (د ۱۹۹۵ م کال د جون نهمه) نيټه د مشهور ختيځ پوه ک ـ ف ـ گيرس لومړی تلين، د افغانستان د فرهنگ ټولنې، د گيرس د کورنى او د شرق پيژندني د انيستيتوت له خوا ولمانځل شوه. په دي لمانځغونډه کي کورنيو او بهرنيو پوهانو د گيرس د ژوند، آثارو او افکارو په باب خپلې مقالې او خاطرات واورول.
گيرس د افغانستان د ژبو او ادبياتو د پيژندني په برخه کي څه د پاسه دوه ديرش کتابونه ليکلي دي. څنگه چي دی يو پياوړی افغانستان پيژندونکی و، ځکه د افغانستان د فرهنگ ټولني اړينه وگڼله چي د ده د لومړی تلين په لمانځلو کي کارنده ونډه واخلي.

## ح: د استاد عبدالرحمن پژواک د فاتحې مراسم:

استاد عبدالرحمن پژواک د افغانستان د ادبي، ژورنالستي، سياسي او ملي شخصيتونو په سرلارو کي شميرل کيږي. پژواک په ۱۹۱۹ م کال زيږيدلی. د حبيبيې ليسې له پای ته رسولو وروسته، د کابل طب پوهنځي ته شامل شو، خو له دوو کلو وروسته يي هغه نيمگړی پريښود او ادبي هڅې يي پيل کړي؛ خو وروسته يي د سکاټلند د ادنبورگ په پوهنتون کي د نړيوالو اړيکو او عملي ژورناليزم په څانگه کي خپلې لوړې زده کړې تر سره کړې. د ده ژوند کيدای شي په دغو څلورو برخو و ويشل شي:

۱ ـ زده کړې،
۲ ـ په افغانستان کي ماموريت،
۳ ـ په بهر او ملگرو ملتونو کي ماموريت،
۴ ـ تقاعد او د مهاجرت دوره.

په افغانستان کي له ځينو برياليو ماموريتونو وروسته په بهر کي د کلتوري اتشي په توگه وټاکل شو، بيا په ملگرو ملتونو کي د افغانستان د سفير او دايمي استازي په صفت دنده ور وسپارل شوه، په ۱۹۶۷ م کال د ملگرو ملتونو د عمومي اسامبلې رياست ته انتخاب شو، وروسته له دې په بـڼ او لندن کي د افغانستان د سفير په توگه وگمارل شو. استاد پژواک د ۱۳۷۴ هجري شمسي کال د جوزا په اتلسمه(۱۹۹۵ د جون اتمه) نيټه په پيښورکي وفات شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د پژواک مرګ د افغانستان د فرهنګ خزان وهلي بڼ باندې يو بل کلک ګزار و چې يو ځل بيا يې غمجن فرهنګيان او پر وطن مين افغانان د وير پر ټغر کېنول.
ګران دوست او پياوړي قلموال، زرين انځور د افغانستان د فرهنګ ټولنې د نشراتي ارګان (پرديس) په پنځلسمه پرله پسې ګڼه کې د استاد پژواک د مړينې په وير کې داسې ليکلي دي:
«د استاد پژواک د مرګ د غږ په اوريدو سره، د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې خواره واره افغانان يوازې له دې امله غمګين نه شول چې يو لوی ديپلومات، شاعر او مبارز مړ شو، بلکې زياتره تأسف له دې امله هم و چې د وطن د تاريخ په داسې حساسو جوړونکو شيبو کې د داسې خبيرو او ملي شخصيتونو مرګ لا زيات غمجنونکي او ژړونکي دي...
د استاد پژواک د شخصيت وړانګې تر هر څه لومړی، د افغانستان د ژورناليزم او مطبوعاتو په پاڼو کې را وځليدې. دی له هغو کسانو څخه و چې د وطن د مطبوعاتو په تاريخ کې يې نوې انګازې او ولولې را پيدا کړې. د همدغسې څو تنو په هلوځلو زموږ ژورناليستيک او مطبوعاتي بهير، که په نړيواله کچه نه وي، د سيمې د مطبوعاتي لړۍ سيالۍ ته برابرشو...
د استاد پژواک د شخصيت دويم اړخ، سياست او ديپلوماسي ده. دی د وطن د آزادي غوښتونکو ملي شخصيتونو په کتارکې ځرګند مقام لري...
استاد عبالرحمن پژواک د افغانستان د ادبياتو په تاريخ کې د ستاينې وړ ځای لري...»
د افغانستان د فرهنګ ټولنې د استاد پژواک د مرګ د غمجن خبر په اوريدو سره، وپتيله چې د استاد د فرهنګي، سياسي او ادبي خدمتونو په خاطر د ۱۳۷۴هجري شمسي کال د سرطان په پنځمه (۱۹۹۵ د جون ۲۶) نيټه يوه تعزيتي غونډه جوړه کړي.
په دې تعزيتي غونډه کې ګڼ شمير افغان فرهنګيانو او خټيځ پيژندونکو ګډون کړی و. ګډون والو د پژواک د څو اړخيز شخصيت، آثارو او افکارو په باب مقالې، شعرونه او خاطرات بيان کړل.

د افغانستان د فرهنګ ټولنې فرهنګي هلې ځلې د ۱۹۹۷ م کال تر پيل پورې ښې منظمې او د قناعت وړ وې؛ خو د ټولنې د ځينو فعالو غړو مسافرت او نورو ملکونو ته بيا مهاجرت، په ماسکو کې د بې اسنادئ جنجالي ژوند او د ځينو افرادو او موسساتو منفي لاس وهنو او مزاحمتونو، د ټولنې کارونه پڅ او له خنډونو سره مخ کړل. د افغانستان د فرهنګ ټولنې د فرهنګي کارونو د پڅيدو او يا په ټپه دريدو عمده عوامل داسې په نښه کيدای شي:
- د روسې ټولنې بې ثباتي،
- د افغانانو خپلمنځي تضادونه او بې اتفاقي،
- په روسيه کې د افغانانو بې اسنادي او بې سرنوشتي،
- له روسيې، په تيره ماسکو نه د غربي اروپا په لوري د افغانانو وتل،
- روسيه په هغه وخت کې يوه داسې ثابته ټولنه نه وه چې بهرنی فرهنګ دې وده په کې وکړي، بلکې اروپا ته د خيز يوه تخته وه.
- په ماسکو کې د ځينو هغو کړيو موجوديت او فعاليت چې د فرهنګ په پښو دريدل، د افغانستان د فرهنګ ټولنې پر شا و خوا د افغانانو را ټوليدل او فعاليت يې د ځانو له پاره مضرګاڼه.
سره له دې چې په ماسکو کې د ټولنې پاتې غړو د ۱۹۹۹م کال تر پايه پورې ډيرې هلې ځلې وکړې چې ټولنه په پښو ودروي، خو دومره چې اړتيا وه مؤثريت يې نه درلود.

د شلمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ